د حزب التحریر
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه ۱۲ رمضان ۱۴۳۸هـ ۰۷-۰٦-۲۰۱۷م گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۸/۰٦

مطبوعاتي اعلامیه

# کابل پروسه؛ د سولې د ناکام بهیر ادامه ده

کابل له څو ورځو پرلپسې درنو چاودنو او ولسي لاریونونو وروسته، د جون پر ٦مه د «کابل پروسې» تر نامه لاندې د سولې د نړیوالې غونډې شاهد و. په دغه ناسته کې د ملګرو ملتونو، اروپايي اتحادیې او ناټو سازمانونو په ګډون ۲۳ هېوادونو برخه درلوده، چې پرته له کومې ځانګړې لاسته راوړنې پای ته ورسېده.

**حزب التحریر-ولایه افغانستان،** د «کابل پروسې» ناسته، د سولې په اړه د مسکو د هڅو پر وړاندې امریکایي ابتکار ګڼي او د شاوخوا تېرو ۴۰ بېلابېلو غونډو او کنفرانسونو په توګه يې یوه بله ناکامه او د عامه افکارو لپاره غولوونکې هڅه بولي. ځکه په افغانستان کې د جګړې اصلي لامل، په سیمه کې د امریکا او ناټو اوږدمهالې ستراتیژیکې استعماري موخې دي، چې تر اوسه په افغانستان کې د سولې پر ځای د جګړې له لارې تعقیب ته اړتیا لري. له همدې امله امریکا او ناټو له افغانستان څخه په سیمه کې د خپلې جګړه ییزې پروژې په توګه کار اخلي. نو که طالبان هم سولې ته غاړه کېږدي، د حزب اسلامي په څېر به د جګړې په درولو کې کوم ځانګړی اغیز ونه لري، ځکه د جګړه ییز بدیل په توګه يې داعش مخکې له مخکې رامنځ ته کړی، چې لاتراوسه د سولې په روان بهیر کې له هغه سره د جوړجاړې تشه یادونه هم نه کیږي.

نو د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس باید د زړه له تله دا درک کړي چې امریکا، ناټو او د هغوی ګوډاګی حکومت د سولې د دا ډول پروسو تر نامه لاندې خلکو ته دروغجنې هیلې زیږوي. حال دا چې د جګړې د شدت له لارې غواړي؛ لومړی وسله وال مخالفین د خپلو ګټو لپاره وکاروي، ورپسې يې وسله اېښودلو ته مجبور او له نړیوالو وسله والو ډلو څخه رابېل او په پای کې د امریکا په لاس جوړ شوی سیکولر اساسي قانون ورباندې تحمیل کړي. که څوک دغه درې امریکايي شرایط ونه مني، نو هغه د امریکایي ګټو د تهدید لامل ګڼل کیږي، چې بالآخره به د «تروریست» تر نامه لاندې وژل کیږي.

**د حزب التحریر-ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**